UNAMA
SRSG Briefing
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

**د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته په افغانستان کې د عمومي منشي د ځانګړې استازې آغلې دیبورا لاینز وینا**

***[څنګه چې وړاندې شوې]***

**۲۵ جون ۲۰۲۰**

*** * ***

آغلې رئیسې،

د امنیت شورا غړو،

خوشحاله یم چې نن له کابل څخه له تاسو سره خبرې کوم. دا په رښتیا زما لپاره د ویاړ ځای دی چې په افغانستان کې د عمومي منشي د ځانګړې استازې او د یوناما د مشرې په څیر خدمت کوم. دا یو ویاړ دی. ما په افغانستان کې په یوه خورا مهم - آن د ځینو په وینا تاریخي - شېبه کې دغه دنده په غاړه واخیسته.

زما د کار په لومړیو میاشتو کې زه د سیاسي قشر او مدني ټولنې له یو شمېر مخاطبینو سره پر خبرو اترو بوخته شوم. دوی ټول یو څرګند پیغام وړاندې کړ: افغانستان اوس له څلورو لسیزو جګړې وروسته یوې روښانه او لا زیاتې با ثباته راتلونکې ته د ګرځېدو په لور یو بې ساری فرصت لري. او زیات شمېر یې له هغوی څخه د ملاتړ چمتوالی په ډاګه کړ. او لا هم، څرنګه چې موږ ټول پوهیږو، د هیلې دغه راټوکیدونکې شېبه د نا پیشبینې شوې نړیوالې وبا پرمهال رامنځ ته شوې، کومه چې په ډېرو سختیو ترلاسه شوې ټولنیزې-اقتصادي لاسته راوړنې د له منځه تلو له ګواښ سره مخ کوي.

آغلې رئیسې،

افغانستان په دې وروستیو کلونو کې خورا ستر پرمختګ کړی. زه د دغه هېواد د ځوانانو له پیاوړتیا او میړانې سخته متاثره یم. ما د کاناډا د سفیرې په حیث په درې کلنه موده کې له زیات شمېر الهام بخښوونکو ځوانانو سره لیدلي و. او زه ډېره خوشحاله یم چې له زیات شمېر هغوی سره یې د دولت او مدني ټولنې د مشرانو په څیر یو ځل بیا په اړیکه کې کیږم. موږ ویاړو چې له دوو هغو یې ویناوې اورو: آغلې سفیره راز ، څوک چې په نیویارک کې یوه پېژندلې څېره ده او آغلې اکبر، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون رئیسه، له چا سره چې ما په دې وروستیو کې د سولې په هڅو کې د ښځو د شمولیت د هیئت د مشرۍ کولو ویاړ درلود. دواړه سفیره راز او رئیسه اکبر د نوي کهول برخه دي چې یوه سوله ییز او پر ځان بسیا او ټولو ته د بشري حقونو درناوي کوونکې هیواد را منځ ته کولو ته ژمنې دي. زه چې څه ګورم زما لپاره الهام بخښونکې دي، زه لا زیاته دې ته ژمنه یم چې خپل غږ او پلاټفورم د هغوی او د بشري حقونو او د ښځو حقونو اتلولۍ لپاره وکاروم، او هغه په افغانستان کې زموږ د کار مرکزیت وګرځوم.

یوه بله مهمه لاسته راوړنه چې په وروستیو کلونو کې ترسره شوې او په ځانګړي ډول د لمس وړ ده، د افغانستان د ازادو او ځلانده رسنیو سکتور دی. افغانستان د ژورنالستانو لپاره یو تر ټولو خطرناک هیواد ګڼل کیږي. خو بیا هم هغوی د واکمنو افرادو د احتساب لپاره خپل مهم کار ترسره کوي. دوی هم الهام بخښوونکې دي.

افغانستان همدارنګه په تیرو دوو لسیزو کې د زیات شمیر خپلو اتباعو د ژوندانه وضعیت د ښه کولو لپاره د پام وړ ګامونه پورته کړي. په ۱۵ کلنه موده کې د میندو مړینه ۶۶ سلنه او د ماشومانو مړینه نیمه یې راکمې شوي. په دغې ورته موده کې د روغتیا د عامه مرکزونو د پوښښ پراختیا نږدې دوه برابره شوې. په دغو برخو کې پرمختګ شوی. دغه حقیقتونه د انکار وړ نه دي.

آغلې رئیسې،

له دې سره سره، زه په بشپړ ډول دا درک کوم چې دغه پرمختګ خورا په سختۍ ترسره شوی او لا هم نازک او ماتیدونکی دی. زیات شمیر افغانان لا اوس هم د پایښت لپاره له ورځنیو هڅو هاند سره مخ دي. او کله چې د ولسي مرګ ژوبلې موضوع مطرح کیږي، د افغانستان جګړه په نړۍ کې یوه تر ټولو مرګونې هغه ګڼل کیږي. د متحده ایالاتو-طالبانو ترمنځ تړون او په تعقیب یې د تاوتریخوالي کمښت په معمول وژنو کې لنډې دمې رامنځ ته کړې. په ځانګړې ډول پر روغتیایي مرکزونو وروستي عمدي بریدونه تر ټولو هیښوونکی وو، په یوه داسې وخت کې چې ټول خلک او ټولې سرچینې باید د کوویډ-۱۹ له وبا سره پر مبارزې متمرکزې وي. د مۍ پر ۱۲ د کابل په لویدیځ کې د یوه روغتون د زیږنتون پر ځانګې برید تر ټولو وحشتناک و او تر ټولو ناوړه وضعیت یې رامنځ ته کړ. دا په رښتیا سره یوه داسې شیبه وه چې له رحم څخه نوي ژوند واخیستل شو. د دغې پیښې عاملین باید پیدا او د احتساب منګولو ته وسپارل شي.

زه همدارنګه ولسي وګړو ته د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې له خوا د موجوده ګواښ په اړه سخته اندیښمنه یم. دغه کار په ننګرهار ولایت کې د جنازې په مراسمو کې د وروستي ځانمرګي برید له خوا په ډاګه شو، چې په پایله کې یې لږ تر لږه ۲۹ ولسي وګړي ووژل شول او ګڼ شمیر نور ټپي شول.

دغه راز د افغانستان جګړه د ماشومانو لپاره یوه تر ټولو خونړۍ هغه ګڼل کیږي. یوازې تیر کال، ۸۷۴ ماشومانو د جګړې له امله خپل ژوند بایللی او خورا زیات شمیر نور ژوبل شوي. د دې ویل ما خپه کوي، چې له ښوونځي څخه د بهر زده کوونکو شمیر نه دی راکم شوی، بلکې پر ځای یې په تیرو اتو کلونو کې لوړ شوی. که کله هم چیرې د سولې لپاره د دعا غوښتنه وشي، په یقین سره دا به د دغو ماشومانو اوازونه منعکس کړي.

د زیات شمیر نورو هیوادونو په څیر، افغانستان لا اوس هم د اداري فساد پر وبا اخته دی، کوم چې د خلکو او مرستندویه ټولنې باور له منځه وړي او د روانې جګړې لپاره د سونګ توکي برابروي. له اداري فساد سره د مبارزې د اصلاحاتو په برخه کې د تیرو کلونو له پرمختګ سره سره، دغه پرمختګ په تیر کال کې سوکه شوي او کلیدي ساختاري اصلاحات له پامه غورځول شوي، لکه تر ټولو د خورا مهم له اداري فساد سره د مبارزې د خپلواک کمیسیون را منځ ته کول. د ښو اړیکو لرونکو سیاسي اشخاصو څرګند معافیت یوه ستره موضوع ګڼل کیږي. له اداري فساد د مبارزې په وړاندې نور پرمختګ له دې امله خورا مهم دی، ځکه چې د افغانستان په اړه د ژمنې د کولو کنفرانس رانږدې کیدونکی دی.

د کوویډ-۱۹ روغتیا او بشري ناورینونو په ګډون هیواد ته مخ دغه څوګونې ننګونې تر هر څه د اوس لپاره یوې با عزمه او متحدې مشرتابه ته اړتیا لري. او په دې زمینه کې زه د ولسمشر غني او ډاکټر عبد الله ترمنځ د سیاسي هوکړې کومې ولس ته د لومړیتوب ورکولو لپاره عزم او اراده په ډاګه کړل، هرکلی کوم. د همکارۍ په دې روحیه، زه تمه لرم چې په راتلونکو څو ورځو کې به د یوې ممثلې کابینې او د سولې د ټول شمول جوړښتونو د جوړولو خبرونه واورم.

آغلې رئیسې،

له دغو مختلفو ننګونو سره سره، اوس د افغانستان لپاره د یوه دوامدار او متمرکز ملاتړ وخت دی. څرنګه چې موږ د افغانستان د لیرد لسیزې له نیمه یې تیر شوي یو، موږ یوه تر ټولو اوښتونکې پړاو ته داخل شوي یو؛ څرنګه چې د سولې دوه خواوې د یوه پایېدونکې سوله ییز حل په لور خوځښت کوي کوم چې باید د تیر پر لاسته راوړنو بنا وي او د یوه ښېرازه راتلونکې لپاره بنسټ کېږدي.

زه په محتاطانه ډول هیله منده یم چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت او د طالبانو د مرکچي ټیمونو ترمنځ به خبرې اترې په حتماً په راتلونکو څو اونیو کې په جولای میاشت کې په دوحه کې پیل شي. څرنګه چې دواړو خواوو په دې اړه اقدام کړی چې د خبرو اوږده او پیچلې لړۍ به ښایي څه ډول وي، ما هغوي دې ته هڅولي چې انعطاف پذیري او دوراندیشي خپلې کړي، سولې ته ژمنتوب او تر ټولو مهم د خپلو خلکو لپاره خواخوږي څرګند کړي، کوم څه چې یوې بریالۍ پایلې ته د دغو مذاکراتو د رسولو لپاره اړین دي.

د طالبانو او دولت له خوا د اختر د درې ورځني اوربند رسمي اعلان په تاوتریخوالي کې د هرکلي وړ او خورا اړین کمښت لامل شو. څرنګه چې پوهیږئ، په تاوتریخوالي کې کمښت د سولې خبرو اترو لپاره د یوه مساعد چاپېریال د رامنځ ته کولو او په نهایي ډول دایمي اوربند ته د لارې هوارولو لپاره خورا مهم دی. خو د تاوتریخوالي وروستۍ مخ پر زیاتیدو کچې دغه پروسه ګواښي. نو د اوس لپاره، دا د ټولو هغو هیوادونو لپاره چې د سولې ملاتړ کوي اجباري ده څو خپل نفوذ وکاروي او د تاوتریخوالي د کمښت غوښتنه وکړي.

آغلې رئیسې، له یوې لا زیاتې مثبتې یادونې سره غواړم د بندیانو د خوشې کیدو په اړه د وروستۍ له ننګونو په ډکه موضوع کې د دواړو لورو له خوا د په ډاګه شوې ژمنې یادونه وکړم. دا د باور جوړونې یو مهم اقدام دی کوم چې د مذاکراتو په لور خوځښت رامنځ ته کړی. اوس چې زه له تاسو سره خبرې کوم، دغه کار په وروستیو پړاونو کې دی او د یادونې وړ ده چې دواړو خواوو په دې هوکړه کړې چې د بندیانو د خوشې کیدو تر بشپړیدو وروسته به د یوې اونۍ په دننه کې خبرې اترې پیل شي. خو بیا هم، دغه کار باید د تاوتریخوالي له کمښت سره مل وي.

غواړم دغې نکتې ته د ښکیلو خواوو د راوستلو لپاره د متحده ایالاتو او قطر د حکومتونو او یو شمیر سیمه ییزو شریکانو د ترسره شویو هڅو قدرداني وکړم؛ او موږ ټول د مذاکراتو د رسمي پیل په تمه یو. ملګري ملتونه له اړتیا سره سم د دغو مستقیمو خبرو اترو د ملاتړ لپاره چمتو دي، او زه له دواړو خواوو سره په خبرو اترو بوخته یم څو د مخکې تګ لپاره د هغوي اړتیاوې په ګوته او حل کړو. موږ اوس مهال له یو شمیر هیوادونو سره له ډیرې نږدې کار کوو څو د اړتیا سره سم د خبرو اترو او ښکیلو خواوو د ملاتړ لپاره یوه شبکه جوړه کړو.

څرنګه چې موږ ټول پوهیږو، د یوه پایښت لرونکې حل لپاره تر ټولو غوره چانس په یوې پراخې اجماع کې نغښتی چې د هیواد د ټولو اتباعو لپاره د هیلو او اندېښنو منعکس کوونکې وي. موږ پوهیږو چې دواړه خواوې له مختلفو لورو سره په اړیکه شوي څو د سولې په اړه د هغوي نظرېږي ترلاسه کړي. په واقعیت کې دا خورا مهمه ده چې د سولې خبرو اترو لپاره ټول شموله جوړښتونه را منځ ته شي کوم چې د ښځو، ځوانانو، لږکیو او د جګړې د قربانیانو د مهم ګډون لپاره زمینه برابروي. دا مهمه ده چې د مذاکراتو پر مهال د قربانیانو حقونو ته رسیدګي شوي او د پخلاینې کړنلارې په پام کې نیول شوي.

آغلې رئیسې،

اجازه راکړئ د سولې لپاره بل هڅوونکي شاخص په ډاګه کړم. زه د سیمه ییزو هیوادونو له خوا د یوه سوله ییز حل په لور د افغانستان د ماموریت د ملاتړ لپاره یوه پیاوړی عزم ګورم او اورم. د سولې له پروسې سره د سیمې فعال ګډون او ملاتړ به خورا مهم وي، څرنګه چې هغوي باید د افغانانو سربیره، له سولې او ثبات څخه ډیر څه ترلاسه کړي. ما لا وار د مخه د سیمې او له هغې هاخوا شریکبانو سره یو لړ خبرې اترې ترسره کړي، او زه ډاډه یم چې موږ د سولې پروسې لپاره یو ځای یو رغنده چاپیریال ته وده ورکولای شو. دغه راز څرنګه چې افغانستان د ثبات او پراخې ځان بساینې یوې نوې دورې ته د خوځښت په حال کې دی، د یوې پیاوړې اقتصادي او سوداګریزې همکارۍ د پرمختګ او اتصال لپاره سیمه ییز ملاتړ شتون لري.

آغلې رئیسې،

په ورته وخت چیرې چې په افق کې سوله راڅوکیږي، کوویډ-۱۹ د افغانانو پر ورځنې ژوند سیوري غوړولی. د افغان دولت تر مشرتابه لاندې، ملګري ملتونه یوه همغږي شوي غبرګون سره له دغې وبا سره د مبارزې لپاره مرسته کوي. په دې کې په ټول هیواد کې د لابراتوارونو د شبکې تاسیسول او د روغتیایي مرستو د برابرونکو لپاره د عامې روغتیا د وزارت لپاره د ځان ساتنې د سامان الاتو برابرول شامل دي.

له بده مرغه، څرنګه چې په زیاترو ناورینونو کې پېښیږي، ښځې او نجونې په نا متناسب ډول اغیزمنې شوي: ښار بندیزونو د هغوي خوځښت لا زیات محدود کړی او د کورني تاوتریخوالي خطر یې زیات کړی. ملګرو ملتونو او همکارو ادارو د خدمتونو برابرول جاري ساتلي څو د جنسي او جنډر پر بنسټ تاوتریخوالي مخه ونیسي او د زیږون له روغتیا سره مرسته وکړي.

د ناورین د زیاتیدو او شلېدونکو اقتصادي پایلو په رڼا کې، د بشري غبرګون پلان له سره نوی شوي څو د ۲۰۲۰ کال لپاره د کوویډ-۱۹ اړتیاوې راونغاړي، چې د اړمنو اشخاصو زیات شوي شمیر منعکس کوي. په مجموع کې، د بشري مرستو همکارې ادارې ۱.۱ بیلیون امریکایي ډالرو ته اړتیا لري څو بیړنۍ بشري مرستې برابرې کړي. زه د تر لاسه شویو ونډو مننه کوم او د نړیوالې ټولنې پر دوامدارو او سخاوتمندانه مرستو حساب کوم، څو زموږ لپاره له افغان حکومت سره د دغه اړین غبرګون د ترسره کولو لپاره لاره هواره کړي.

آغلې رئیسې،

د ګڼو اوونیو لپاره د وضع شویو ښار بندیزونو ټولنیز او اقتصادي اغیز اقتصادي فعالیت راکم کړی او د تادیاتو له لاسه ورکول به ژور او اوږد مهاله وي. افغانستان د بې ساري نا معلوم مالي برخلیک په حالت کې د دوامدار نړیوال ملاتړ په لټه کې له ویروونکې ننګوني سره مخ دي، آن د دودیزو مرسته ورکوونکو هیوادونو ترمنځ. نو له همدې امله موږ د افغان او فنلنډ له دولتونو سره د ژمنو د راتلونکې کنفرانس لپاره د چمتوالي او د افغانستان د راتلونکې لپاره د دوامداره سرچینو د ملاتړ جوړولو لپاره په نږدې مشارکت کې کار کوو. دغه کنفرانس او د سولې خبرې اترې باید په دوه اړخیز ډول یو بل تقویه کړي. زه پر ټولو شریکبانو د کنفرانس لپاره په چمتوالي کې د یوه پیاوړي ګډون غږ کوم څو وکولای شو له افغانستان سره مرسته وکړو چې د تیر لاسته راوړنې د سولې په نوې صحنه کې راتلونکې ته ولیږدوي.

له دې سره سره، نړیوالې وبا همدارنګه زموږ خپل عملیاتي دریځ لپاره بې ساري ننګونې رامنځ ته کړي او په بشپړ ډول زموږ د ماموریت د ترسره کولو وړتیا یې محدوده کړې. نو له همدې امله، موږ یو لړ اقدامات خپل کړي څو د خپلو کارمندانو روغتیا او سلامتیا خوندي کړو په داسې حال کې چې په ټول هیواد کې مو د خورا مهمو پروګرامونو او فعالیتونو ترسره کول جاري ساتلي. په دغو پروګرامونو او فعالیتونو کې بې له شکه، د سولې د مذاکراتو په اړه پیاوړې هڅې، له افغان دولت سره د کوویډ د غبرګون د ملاتړ قوي هڅې او د بشري حقونو معیاري فعالیتونه شامل دي. ملي ښار بندیزونو او په نړیوالو سفرونو کې را منځ ته شوي سکتګي زموږ زیات شمیر کارمندان اغیزمن کړي. زه د هغو دولتونو ډیره منندوی یم چا چې زموږ د خورا مهمو کارمندانو نوبتي

خوځښت تسهیل کړي او په دې وروستیو کې یې له روغتیایي تخلیې سره مرسته کړې. یو ځل بیا په ساده الفاظو کې، تاسو له موږ سره د ژوند په ژغورنه کې مرسته کړې.

آغلې رئیسې،

په پای کې، یو ځل بیا د دې یادونه کوم چې کووېډ یوازې یو روغتیایي ناورین نه دی؛ دا یو ګڼ اړخیز ناورین دی چې لا وار د مخه زیانمنیدونکي هیواد اغېزمن کوي. په یو ځای کار کولو سره، موږ کولای شو پر کووېډ برلاسي شو او له افغانستان سره د سولې د راټوکیدونکې پروسې په پیلولو کې مرسته وکړو څو د دغه هیواد وګړي وکولی شي هغه پایښتونکې سوله ترلاسه کړي چې دوي یې په هیله وو.

ملګري ملتونه به د ننګونو په دغه بې ساري او د لرزیدونکې هیلې په وخت د افغانستان له خلکو سره خپل مشارکت جاري وساتي. زما لپاره د ویاړ ځای دی چې په دغو خورا مهم راتلونکو میاشتو کې د دوامدار ملاتړ یوه برخه یم. په داسې حال کې چې افغانان د سولې پر اوږده سړک خپله راتلونکې راتلونکې لار پلانوي، هغوي به د دغې شورا لارښوونو، ملاتړ او یووالي ته سترګې په لار وي.

مننه.

* * *

*یوناما ته د یوه سیاسي ماموریت په حیث د افغان دولت او د افغانستان د خلکو د ملاتړ په موخه ماموریت ورکړل شوی کوم چې د نورو مهمو خدمتونو تر څنګ " د ښه نیت هڅې برابروي ". د "ښه نیت هڅې" هغه دیپلوماتیک اقدامونه دي چې ملګري ملتونه یې د خپلې خپلواکي، بې طرفي او تمامیت په اړه په عامه او خصوصي محافلو کې ترسره کوي، څو د نړیوالو شخړو د راپورته کیدو، تشدید کیدو یا پراخیدو مخه ونیسي. یوناما د سولې او پخلاینې د پروسې سره مرسته کوي، بشري حقونه نظارت کوي او هغو ته وده ورکوي، په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په شمول، ښه حکومتولي ترویجوي او سیمه ییزه همکاري تشویقوي. ماموریت همدارنګه همغږې پرمختیا ته وده ورکوي چې ملاتړ یې د نړیوالې ټولنې له خوا کیږي.*